AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

سلام خان ۲۰۱۲/۰۲/۱۹

# د امریکا سره د ستراتیژیک تړون په اړه خبرې پیل شوی دي

له افغانستان سره د ستراتیژیک تړون د لاسلیکولو په اړه موافقې ته د رسیدو لپاره د واشنګټن په نویو هڅو کې د دغه هیواد پنځه سناتوران دامریکا دسنا دپوځی کمیټې رئیس جان مکن تر مشری لاندی د شنبې په شپه کابل ته راغلي دي. او د دې تړون د لاسلیکولو په هکله یې د پرمختګ خبره کړې دی، د بهرنیو چارو وزارت ویاند جانان



موسی زی د یکشنبې په ورځ ورسنیو ته ویلي دي چې له امریکې سره د ستراتیژیک تړون په اړه خبرې رواني دي، نوموړی په یوه خبره ناسته کې ویلی دی چې خبری له سره پیل شوی دې او ډیری ښی روانی دې، که څه مخکې ولسمشر کرزي خبرداری ورکړی و تر هغه چې بهرني ځواکونه له شپنیو عملیاتو او د افغانانو د کورنو له پلټنې لاس په سر نه شي دا تړون به لاسلیک نه شي.

د امریکې د سنا د پوځي کمیټې رئیس جان مکن ټینګار کړی دی چې دا عملیات په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د ماموریت لپاره حیاتي دي، دی دا کار د افغانستان او امریکې تر منځ په تړون کې یو خنډ بولي خو یو شمېر سناتوران بیا دا تړون نه یوازې د امریکې او افغانستان بلکه د ټولو هیوادونو په ګټه بولي،که څه هم د بهرنیو ځواکونو لخوا د شپې د عملیاتو دوام او افغانانو ته د بګرام زندان د مسوولیت سپارل تراوسه هم د دې تړون د لاسلیکولو په وړاندې جدي ستونزې بلل کیږي، د امریکې د سنا د پوځي کمیټې رئیس جان مکن وویل: « موږ بشپړ باور لرو چې په افغانستان کې زموږ د ماموریت په بریالیتوب کې د شپې د عملیاتو دوام ډیر رول لري، د دغه عملیات په افغانستان کې د پوځیانو او ملکي خلکو د امنیت لپاره مهم دي، له همدې امله ما ولسمشر کرزي ته وویل دا مسئله اواریداي شي، موږ د شپې د عملیاتو د درولو مخالف یو ځکه دا کار زموږ پوځیان له جدي خطر سره مخامخ کوي، سناتور جان هویرن وویل: « د ستراتیژیک تړون لاسلیکول نه یوازې د افغانستان لپاره مهم دی بلکه د امریکا لپاره هم مهم دی، ځکه په دې کار سره به دواړه هیوادونه اوږدې اړیکې ولري، البته دغه راز تړون د سیمې په ګټه هم دی، دغه راز د متحده ایالتونو د سنا مجلس د بهرنیو اړیکو د کمیټې غړی لیندسي ګراهام په نننۍ خبري ناسته کې وویل، چې شپني عملیات له پوځي اړخه ګټور دي او باید له افغانستان سره د متحده ایالتونو د ستراتیژیک تړون پر وړاندې خنډ نه شي، نوموړي زیاته کړه: هغه څوک چې د شپنیو عملیاتو مخالفت کوي، باید په دې پوه شي چې دا پر مخالفینو سخت ګوزار دی،هغه وویل، چې اوسمهال په شپنیو عملیاتو کې د افغان امنیتي ځواکونو ونډه ډېره شوې او همداراز د ملکي تلفاتو کچه هم تر ډېره ټیټه شوې ده او هڅه کیږي، چې په دې عملیاتو کې بهرني ځواکونه یواځې ملاتړی رول خپل کړي،همداراز جان مکین وویل، چې له ولسمشر کرزي سره په کتنه کې یې هم په ټینګه ویلي، چې: "موږ په کلکه د شپنیو عملیاتو په بشپړه توګه د بندېدو مخالف یو، ګراهام هم وویل، چې داسې یوه قاعده باید رامنځ ته شي، چې له مخې یې په شپنیو عملیاتو کې نیول شوي بندیان، افغان امنیتي ځواکونو ته وسپارل شي، د هغه په خبره، امریکایي چارواکي به له افغان چارواکو سره خبرې وکړي، ترڅو افغان حکومت ته سپارل شوي بندیان بېرته خوشې نه شي او د بهرنیو ځواکونو پرضد بیا وسله پورته نه کړي

له بلې خوا د اداري فساد شتون او د واټونو ترخنګ مینونه په افغانستان کې د اندیښنې وړ بلل کیږي، ریچارد بلومینتل: «اداري فساد هماغه راز د یوې ننګونې په توګه پاتې دی او دې ته اړتیا ده چې د دې ښکارندې په وړاندې مبارزه وشي، همداراز د واټونو ترخنګ مینونه او چاودیدونکي توکي هغه ستونزې دي چې ډیری یې له پاکستان څخه راوړل کیږي، زه په جدي توګه له پاکستان څخه افغانستان ته د دغه راز توکو د لیږد د درولو له امله ناراضه یم، کارپوهان په دې باور دي که کابل له واشنګټن سره د ستراتیژیک تړون لاسلیکول له لاسه ورکړي، هیواد به له نویو تاوتریخوالیو سره مخامخ شي، داسې تاوتریخوالي چې له ۲۰۱۴میلادي کال وروسته به افغان پوځیان چې افغان حکومت پرې ډیر حساب کوي د هغې د کنټرول توان ونلري او له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو له غږ سره په یو وخت به امنیتي ستونزه د کابل حکومت د سقوط تر پولې ورسیږي.

پای


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ